مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب‌الله زغم

۲۰۲۴/۰۳/۱۳

د زړه روماتیزم

(Rheumatic Fever and Rheumatic Heart Disease)

د دي لپاره چې د زړه په روماتیزم پوه شو، لومړی باید د زړه ساختمان وپیژنو. زړه له غوښې جوړه شوی ده چې ځلور خونې لري. یو دهلیز او یو بطن په چپه خوا کې، یو دهلیز او یو بطن په ښی خوا کې. وینه له ورېدونو (شنو رګونو) څخه دهلیزونو ته راځي او بیا بطنونو ته تېرېږي. د هر دهلیز او بطن تر منځ یوه دریڅه (valve) وي چې کله وینه بطن ته ځي، دا دریڅه بندېږي او نه پرېږدي چې وینه بېرته دهلیز ته لاړه شي. له بطنونو څخه شریانونه (سره رګونه) راووځي او کله چې بطن وینه پمپوي، د همدې شریانونو له لارې سږو او ټول بدن ته وینه رسوي. د هر بطن او لوی شریان تر منځ هم یوه دریڅه وي.



روماتیزم څه دی؟

روماتیزم معمولاً د ستوني او ټانسلونو د ګزک نتیجه وي. کله چې د چا ستونی ګزک وکړي او سمه درملنه یې ونه شي، د دي احتمال شته چې زړه یې په روماتیزم اخته کړي. همدغه میکروب د پوستکي د دانو سبب هم کېږي چې منځ یې له زوي ډک وي نو تر داسي دانو وروسته هم د زړه روماتیزم رامنځته کېدای شي. وجه یې دا ده چې بدن د ستوني یا پوستکي د میکروب پر ضد دفاعي غبرګون ښیي. د میکروب د دېوال ساختمان د زړه د غوښې او د دریڅو له ساختمان سره ورته دی. د بدن دفاعي سیستم هماغسي چې د میکروب د ختمولو هڅه کوي، د زړه غوښې او دریڅې هم تر برید لاندې راولي او ګزک په کې پیدا کوي. د ګزک په نتیجه کې وروسته بیا د زړه دریڅې پرسېږي او کلسیم وربانديِ نښلي. دي سره دریڅه کلکېږي او بیا پوره نه شي خلاصېدای، هماغسي چې په ژمي کې د کور لرګیني دروازې او د کړکیو پلي تاب کوي او سمې نه پورې کېږي. نتیجه یې دا راووځي چې د زړه دریڅه تنګه شي او بیا ټوله وینه له دهلیزه بطن

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته، يا له بطنه شريانونو ته نه شي تېرېدای. د ويني هغه برخه چې له دريځي نه شي تېرېدای، په بطن يا دهلېز کې پاتې کېږي او دغه بطن يا دهلېز پرسوي. له بلې خوا دا چې بدن ته کافي وينه نه شي رسېدای، نو انسان ژر ستړی کېږي او ساه يې لنډېږي.
د دريځي تنګوالی مختلفې درجې لري. که دا تنګوالی کم وي، ناورغ ته ډېره ستونزه نه جوړوي او يوازې درمل غواړي خو که زيات وي بيا نو عمليات غواړي چې پر عمليات يې يونيم – دوه لکه افغانی لګېږي.

نښې نښانې:

مخکې تر دې چې د زړه دريځي تنګې شي، اول سر کې ناروغ ته روماتيزمي تبه (rheumatic fever) پيدا کېږي. په دې حالت کې ناروغ تبجن وي - بدنونه يې پرسېږي او درد کوي (معمولاً لوی بدنونه او د پښو بدنونه اول سر کې اخته کېږي) چې دغه درد او پرسوب مهاجرتي بڼه لري مانا دا چې کله يو بند ونيسي، کله بل بند – د ناروغ پر بدن مخصوصاً د هډوکو او پلو له پاسه کلکې غوتې پيدا کېږي چې درد نه لري، همدارنګه ګلابي يا سرې وړې دانې چې خارښت نه کوي – د زړه التهاب چې کېدای شي د ټټر درد ورسره مل وي او ډاکټر به په معاينه کې غيرنارمل آوزونه اوري – د اعصابو اخته کېدل چې د چټکو غيرارادي حرکتونو سبب کېږي لکه څوک چې بې اختياره ونڅېږي (Sydenham chorea) – همدارنګه په روماتيزمي تبه کې پښتورګي اخته کې او حاده بې کفايتي ورته پيدا کېږي.
د روماتيزمي تبې او د زړه د دريځو د تنګېدو ترمنځ ممکن کلونه (۲۰-۱۰ کاله) وخت تېر شي.

درملنه:

د روماتيزمي تبې درملنه په پنسلين، اريترومايسين او التهاب ضد درملو (اسپرين، اندوميتاسين، بروفين) سره کېږي. که د زړه يا د پښتورګو بې کفايتي رامنځته شوې وي، ځانګړې درملنه غواړي.

مخنيوی:

د دې لپاره چې د روماتيزمي تبې د بياراګرځېدو مخه ونيول شي او په وروسته کلونو کې د دريځو د تنګېدو مخه ونيول شي، ناروغ ته انټي بيوټيکونه (پنسلين يا اريترومايسين) د اوږدې مودې لپاره ورکول کېږي. دغه موده د ناروغ له حالت سره سم ټاکل کېږي او ځينې ناروغان بايد د عمر تر پايه پورې دغه درمل واخلي.

که غواړئ چې د زړه په روماتيزم اخته نه شئ، داسې وکړئ:

- کله چې په ستوني مو درد شي، ډاکټر ته ورشئ او هغه درمل چې ډاکټر يې درکوي، تر اخره پورې وکاروئ. ځينې خلک همدا چې تبه يې وشکېږي، درمل پرېږدي. دا کار سم نه دی ځکه چې ميکروب پوره نه وي ختم شوی او هغه به خپل کار وکړي. بيا وايم چې هغه درمل چې ډاکټر يې درکوي، تر پايه پورې وکاروئ.

- که په کور کې څوک د ستوني په درد اخته کېږي، هڅه وکړئ چې د کورنۍ له نورو غړو يې بېل وساتي او څوک مه پرېږدئ چې خوا ته يې نژدې شي. ناروغ بايد ماسک وتړي او يا پوزې او خولې ته هر وخت دسمال ونيسي.

- هر کله چې ماشومان مو تبه کوي، په خپل سر دوا ورته مه اخلئ. ناروغ ډاکټر ته بوځئ ځکه چې که د زړه د روماتيزم نښې په کې وي، هغه به داسې درمل درکړي چې د زړه د دريځو د تنګېدو مخه نيولای شي.

- د دې لپاره چې د ستوني په درد اخته نه شئ، له دوړو ځان وساتئ. چېرته چې دوړې وي، پر خوله او پوزه مو دسمال يا ماسک ونيسئ. هره ورځ چې له بهره کور ته ځئ، په تړمو اوبو کې لږ مالګه واچوئ (دومره چې تريووالی يې د اوبنکو په اندازه شي) او غړغړه يې کړئ.

- دا خپل عادت وګرځوئ چې تر خوړو وروسته مالګوبی غړغړه کړئ. (مخصوصاً تر خوړو او غوړو خوړو وروسته).
- تر خوړو وروسته د غاښونو برس کول، د غاښونو له چولو د خوړو پاتې شوني لرې کوي او بيا ميکروب ته چانس نه پيدا کېږي چې په خوله کې مو ځای ونيسي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



د روماتیزم په وجه د زړه تنګه شوې دریڅه



دا نارمله دریڅه ده. تنګه شوې دریڅه له دې سره پرتله کړئ او وګورئ چې د وینې د بهیر توپیر څومره دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ